دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

PROPERTY ACKU

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویي او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدی‌سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۳۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د مرغومی ۱۳ مه د۱۴۳۴ هـ ق د صفر المظفر ۱۹ مه د۲۰۱۳ م د جنوری ۲ مه

طالبان به په یوه سیاسي تحریک بدل شي

(ستانکزی)

داسې نښې لیدل کېږي چې سولې ته د طالبانو په هڅولو کې د افغانستان د حکومت هلې ځلې بریالۍ دي

افغان حکومت او نړیواله ټولنه هڅه کوي چې طالبان، مخکې تر دې چې نړیوال ځواکونه د ۲۰۱۴ کال تر پایه له افغانستانه ووځي، جګړه بس کړي

د افغانستان د سولې د عالي شورا یوه غړي او د سولې په بهیر کې مخکښ مرکچي له وسله والو طالبانو سره پخلاینې ته خوشبیني ښکاره کړه.

محمد معصوم ستانکزي رویترز خبري اژانس ته وویل چې د افغانستان حکومت هیله لري چې وسله وال طالبان به پر یوه سیاسي تحریک یا غورځنګ واوړي.

ده همداراز اټکل وکړ چې د حقاني شبکه به هم، چې د طالبانو په منځ کې تر ټولو زیاته جنګي ډله ده، که افغان طالبان د سولې رسمي خبرې پیل کړي د سولې بیهر ته داخله شي.

ښاغلي ستانکزي د سولې د لرلید په اړه د خپلې خوشبینی د علت په اړه وویل چې ټولې خواوې اوس په دې پوی شوي چې د

پاتې ۴ مخ

در مورد نشست طیاره خارجی در میدان هوایی قندهار تحقیق شود (مشرانو جرگه)

شماری از سناتوران، نشست طیاره خارجی بدون اطلاع قبلی تجاوز آشکار به حریم فضایی این کشور است

کابل، رسانه ها:

مشرانو جرگهٔ افغانستان به دو کمسیون این جرگه وظیفه سپرد تا در مورد علت نشست طیاره خارجی در میدان هوایی قندهار تحقیق نماید.

مشرانو جرگه افغانستان از وزارت ترانسپورت انتقاد می کند که چرا تا اکنون در مورد چگونگی نشست طیاره خارجی در میدان هوایی قندهار خاموشی اختیار کرده است.

به باور شماری از سناتوران، نشست طیاره خارجی بدون اطلاع قبلی تجاوز آشکار به حریم فضایی این کشور است.

بقیه در صفحه ۴

دحزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې د جدي شپږمه وغندله

دحزب اسلامي افغانستان دځوانانو ټولنې دیوغونډې په ترڅ کې دجدې په شپږمه په افغانستان د روسانو د وحشیانه یرغل غندنه وکړه. غونډه چې دحزب اسلامي افغانستان په مرکزي دفتر کې جوړه شوې وه، ماسپښین مهال د قرآنکریم دمبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، په غونډه کې په سلګونو ځوانانو او مشرانو ګډون درلود.

دغونډې په پیل کې د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو د ټولنې مشر ډاکتر سیف الدین عمرخیل په خپله پرانستونکې وینا کې په ۱۳۵۸ لمریز کال دجدي په شپږمه په هیواد د سرو لښکرو د یرغل غندنه وکړه او دغه ورځ یې د اسلامي نړۍ په تاریخ کې یوه توره ورځ وبلله. ...

پاتې دویم مخ

حامد کرزی اوایل هفته آینده به امریکا می رود

تا زمانی که ایالات متحده امریکا نیروهای امنیتی افغان را به گونه لازم تجهیز نکند، با آن کشور قرارداد امنیتی را امضا نخواهم کرد - (کرزی)

کابل، رسانه ها:

قرار است رییس جمهور کرزی به هدف گفتگو با مقام هاي امریکایي، در روز های اول هفته آینده به آن کشور سفر نماید.

تجهیز نیرو های امنیتی افغان، چگونگی انتقال مسوولیت های امنیتی، تلاش های صلح، قرار داد امنیتی کابل و اشنگتن و موضوعات اقتصادی و سیاسی مسایل اند که رییس جمهور کرزی در سفر به امریکا با مقام های آن کشور روی آن بحث می کند.

ایمل فیضی سخنگوی ریاست جمهوری به

بقیه در صفحه ۴

د طالبانو بریدونه کم شوي خو د افغان سرتېرو له خوا پر ناټو بریدونه زیات شوي

اسوشیټډ پرېس په یوه رپوټ کې خبر ورکوي، چې په ۲۰۱۲ کال کې په ټولیزه توګه د وسله والو مخالفینو په بریدونو کې کمی راغلی ، خو پر وړاندې یې د افغان وسله والو ځواکونو له خوا د دوی پر ناټو ملګرو باندې بریدونه په ډراماتیک ډول زیات شوي دي. د رپوټ له مخې د ناټو په تلفاتو او د ملکي خلکو په تلفاتو کې په ټولیز ډول کمی راغلی دی. په ۲۰۱۲ کال کې تر دې دمه ټول ۳۹۴ بهرني پوځیان وژل شوي دي، حال دا چې دا شمېر تېر کال ۵۴۳ تنه وو، خو پر وړاندې یې سږ کال د افغان سرتېرو له خوا په بریدونو کې ۶۱ تنه آیساف پوځیان په ۴۵ بریدونو کې وژل شوي، حال دا چې تېر کال په ۲۱ بریدونو کې ۳۵ تنه بهرني پوځیان وژل

پاتې ۴ مخ

په افغانستان کې د سولې په وړاندې پراته خنډونه

مولوی عطاء الله "لودین"

د پخوا په پرتله د افغانانو ملي وحدت په ډېرو سستو او باریکو تارونو ترل شوی چې واړه چیلنجونه او ستونزې یې تهدیدولی شي

د نړیوالې ټولنې خپل سرۍ او بې نظمه شتون چې دافغانۍ قواوو سره په محاربوي او غیرمحاربوي برخو کې پوره هماهنګي نلري دډېرو ناامنیو او ستونزو باعث ګرځیدلی او افغانان یې په خپلو ناوړه اعمالو چې د قانون، شریعت او افغاني دود او رسم په خلاف یې ترسره کوي راپارولی

سوله چې الهي امر او د انساني ټولنې د لومړیتوبونو څخه لومړنی ضرورت دی، متأسفانه د افغانستان مظلوم خلک ورڅخه دڅه دپاسه درې لسیزو راهیسې محروم او بې برخې دي.

او د ناامنیو د اور په لمبو کې حرث نسل او ټولې زیربناوی او نهادونه سوزي که څه هم پدې برخه کې د افغانستان حکومتي جهتونه، اشخاصو، د سولې د تحکیم او د سولې عالي شورى ګانو وخت په وخت خپل کوښښونه کړي چې ددې مبرم امر د (سولې) د تحقق په خاطر د وروستیو کوښښونو په بهیر کې محترم استاد پروفیسور برهان الدین رباني قرباني او د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو چې دده شهادت د افغانستان د سولې د عالي شوری د اموراتو لپاره ...

پاتې دویم مخ

پیاوړی سیاست پوه او ملي شخصیت ډاکټر عبدالصمد حامد په حق ورسیده

عبدالله کامه وال

دریم مخ

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

شهید قهرمان انجنیر جلال الدین

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان قضايي قوه په فساد کې ککړه ده

له دې واقعيت نه انکار نه شي کيدلې چې په ټولنه کې د عدالت او انصاف د قيام له پاره عدلي او قضايي ارګانونه بنسټيز رول لري، په هغه ټولنه کې چې قضايي ارګانونه خپل درووند مسؤوليت په صحيح معنی ترسره کوي هلته د ظلم او تيري جرړې ختمېږي د ظالمو او فسادي عناصرو حوصلې ماتې او د قانون په وړاندې سرټيټولو ته اړ کېږي. هر څوک په آرامه زړه له څه ويرې پرته خپلې دندې ترسره کوي او د خپلې خاورې او ولس د خدمت چارې پرمخ بيايي، داسې ټولنه له مادي او معنوي استحکام څخه برخمن او د دښمنانو له لاسوهنو څخه مامون وي. که عدلي او قضايي ارګانونه خپلې دندې او مسؤوليتونه په صحيح معنی ترسره نه کړي د هېواد نورې چارې په سمه توګه پرمخ نشي تللې څکه د کوم بدن ملا تير چې مات او عيبي وي هغه بدن د نورو کارونو د ترسره کولو توان له لاسه ورکوي او په دې توګه دهغه ټول کارونه له خنډ خنډ سره مخامخ کېږي او بالاخر پخپل طبعي مرګ مړ کېږي. له بده مرغه په افغانستان کې عدلي او قضايي ارګانونه په ټولنه کې د عدل او انصاف په ټينګولو کې پاتې راغلي او د هېواد مجموعي استحکام يې له خطر سره مخامخ کړې دی. د افغانستان د وګړو لوی شکايت له عدلي او قضايي ارګانو څخه دی، په افغانستان کې داسې څوک نه ليدل کېږي چې له دغو ارګانونو څخه ډاډمن او راضي وي بلکې د هر چا په خوله همدا يوه خبره ده چې د افغانستان قضايي قوه په فساد کې ککړه ده، د هر هغه چا په ګټه فيصلې کوي چې ښه ډېر رشوت ورته ورکړي او يا لويه واسطه ورته ولري، د غريبو او کمزورو وګړو حقوق تر پښو لاندې کوي او د پيسو په بدل کې هغه چاته ورکوي چې جيبونه يې له ډالرو ډکوي، څکه خو د قاضيانو د جايدادونو او پيسو حساب نه کېږي او هر څه ورسره ښه پريمانه دي، که قاضيان رشوت نه خوري نو هغوی څنګه کولې شي چې پخپلو تنخواګانو دومره بډای او مالداره شي چې د هېڅ شی کمی ورسره نه وي.

د عدل او انصاف حاکميت چې مسؤوليت يې د قضايي ارګانونو په غاړه دی د هېواد د غټو غټو ستونزو د حل يواځينې مرجع ده، که واقعاً په ټولنه کې عدل او انصاف قائم شي نو له څه شک پرته د هېواد نورې ستونزې په اتوماتيک ډول حل کېږي او هر کار دهغه اهل ته سپارل کېږي. هره پرزه پخپل ځای کې فټ کېږي او هر يو پخپل ټاکلی دائره کې حرکت کوي، خو چې عدل او انصاف نه وي هلته بيا هر څه ګډ وډ او خودفايره وي چې له وراني ويجاړي پرته بل هېڅ ګټه نه لري. په اوسني وختونو کې د افغانستان لوی او ستر مشکل د عدل او انصاف نه شتون دی او همدغه بې انصافي او بې عدالتي د هېواد ټوله مشنري فلج او د ولس اعتماد يې مجروح کړی دی، له چارواکو څخه د هېوادوالو باور کمزورې او خپل راتلونکي په اړه يې انديښمن کړي دي، همدا لامل دی چې ډېرې هېوادوال د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره عدلي او قضايي ارګانونو ته د رجوع پرځای يا مخالفو وسلوالو قاضيانو ته ورځي او يا هم د ټوپک په زور د اخيستلو تابيه کوي، او قانون پخپل لاس کې اخلي. په محاکمو کې فيصلې دومره خنډېږي چې کلونه کلونه ورباندې تېرېږي او غريب مدعي بالاخر له خپلې ادعا نه لاس په سر کېدو ته غاړه ږدي مګر د خپل انتقام د اور مړه کولو لپاره يا د مخالفو وسله والو ليکو ته مخه کوي او يا هم په ښکاره خپل مخالف په ډزو ولي او په دې توګه خپل زړه يخوي چې دا کارونه نه يواځې دا چې په ټولنه کې تاوتريخوالې او بدامني زياتوي بلکې د هېواد د استحکام او ثبات بنسټونه هم لړځوي او پرديو ته د لاسوهنې او خپلو شومو اهدافو ته د رسېدو فرصتونه هم برابروي.

که ښاغلې کرزی او دهغه حکومتي انډيوالان غواړي چې په افغانستان کې د ناانصافي او بې عدالتي جرړې وباسي او د ولس د بشپړ ملاتړ په ترلاسه کولو بريالې شي نو ددې يواځينی مؤثره لاره داده چې په قضايي ارګانونو کې بشپړ اصلاحات راولي فاسد قاضيان له خپلو دندو ګوښه او له هغوی سره د شته جايدادونو کلک حساب و کتاب وکړي، کوم قاضيان چې مقصر او ګناهکار وپيژندل شي هغوی ته داسې عبرتناکه سزا ورکړل شي چې راتلونکي لپاره نور قاضيان د بډې اخيستلو اراده له خپل زړه نه ليرې او هېوادوالو ته عدل او انصاف يقيني کړي که نه نو دغه ډوبيدونکي کښتې به له ډوبيدو نه هېڅوک ونه ژغورل شي او خامخا به ډوبېږي. الله دې نه کړي.

په افغانستان کې د سولې په وړاندې پراته خنډونه

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...يوه نه جبرانېدونکې ضايعه ده.

د اصل موضوع په اړه چې په افغانستان کې د سولې په وړاندې پراته خنډونه چې د سولې او ثبات د تأمين مانع ګرځي مختلف او څو اړخيزی خواوی لري.

لومړی: داخلي خنډونه

دويم: سيمه ييز خنډونه

دريم: بين المللي خنډونه

چې پورته ذکر شوی هر برخه ځانته جلا جلا دلايل او وجوهات لري:

۱- په داخلي برخه کې:

افغانستان يو کثير القومي مليت دی چې انقلابونو او داخلي جنګونو په دوران کې ددې مليت ملي وحدت ته ډېر زيان رسيدلی اساسات او بنيادونه يې نړيدلي او هغه اعتماد وورورګلوی او اخلاص نه دی پاتې چې د انقلابونو او جنګونو څخه مخکې د ورونو قومونو ترمنځ د افغان مليت او اتباعو په حيث موجود وو.

د پخوا په پرتله اوس دغه ملي وحدت په ډېرو سستو او باريکو تارونو تړل شوی چې واړه چيلنجونه او ستونزې يې تهديدولی شي.

د سولې د تأمين او ثبات راوستو لپاره ملي يووالی، شريک اهداف او شريکه مبارزه ډېر ستر رول او ارزښت لري موږ ګورو يو شمېر وګړی پدې دليل چې ګويا د پښتنو جنګ دی او طالبان يې په سر کې دي نو موږ ته يې څه ! بل وايي دا مشکل د جنوب او شرق دی موږ يې څه کوو !. بل طرف وايي دا د اهل تسنن جنګ دی موږ سره مذهبي تړاو نلري بل جهت بيا وايي حکومت موږ ته منسوب ندی امتياز موږ نه اخلو، حکومتي چارواکي پوه شه او سوله يې پوه شه.

همدارنګه بل طرف يې لدې چې ملي ګټې په نظر کې ونيسي او د يو متحد او قوي افغانستان شاهد او غوښتونکی اوسي. د حکومت د سياسي اپوزيسيون په عنوان د حکومت تضعيف او ملامتيا غواړی.

لدې سره سره چې حکومت هم په قوي نظامي، سياسي موقف کې قرار نلري نو څکه خو پورته ذکر شوی عناصر د سولې د تأمين په لاره کې خنډان پيدا کړی دا ټول هغه دلايل او وجوهات دی چې د حکومت موقف يې ضعيف کړی، سوله او ثبات يې د چلنج سره مخامخ کړی يعنې د ملي وحدت ملي تفاهم او ملي منافعو ته د احترام نه موجوديت د سولې د تأمين مانع ګرځيدلی.

۲- سيمه ييز او منطقوی خنډونه او موانع:

د افغانستان د ګاونډيانو په جمله کې ايران هغه هېواد دی چې د افغانستان سره اوږد سرحد لري د امريکا دښمن او په هېڅ ډول ورسره نه پخلا کېږي.

او دا غنيمت ګڼي چې خپل لېری پروت دښمن يعنی امريکا د خپل کور نه په داسې حالت کې تهديد کړی چې زرګونه کيلومتره ورته د خپل اصلي ټاټوبی نه ورنېږدې شوی او د دوی تهديد مؤثری پايلی لرلی شي د افغانستان او امريکا په خلاف ددوی دښمنان په هر لباس چې وي تمويلوی روزنه ورکوي، او هم ورته هر راز آسانتياوی برابروي.

سره لدې چې ايران له طالبانو سره عقيدوي، مذهبي او فرهنګی مناسبات نلري او حکومت يې هم نه غواړی خو خپل دښمن ورباندې تهديدوي ددې ترڅنګ د يو خاص قشر او مذهب د رشد لپاره هلې ځلې کوي غواړي ددوی په ذريعه خپل ټول سياسي، فرهنګی او اقتصادي اهداف دلته پلی کړی. چې د ايران دا ټولی هلې ځلی او فعاليتونه په افغانستان کې د سولې او ثبات د تأمين مانع ګرځيدلی او خنډان يې پيدا کړی. بلې خواته د پاکستان هېواد چې افغانستان سره تقريباً ۲۵۰۰ کيلومتره اوږد سرحد لري په ظاهره د امريکا استراتيژيک دوست په حيث خو په باطن کې د ناټو قواوؤ حضور څخه په افغانستان کې انديښنه لري ستونزی ورته پيدا کوي او په خلاف يې د افغانستان مخالفې ډلې تمويلوی تربيه ورکوي لارښوونه يې کوي او جګړی ته يې هڅوي.

پدې وروستيو کې د امريکا سره د پاکستان دده ګونی سياست په نتيجه کې خپلمنځي مناسبات خړ پړ شوی امريکا پر پاکستان دعوه وکړه چې د پاکستان د فوځ استخباراتی ځانګه ای ايس ای په افغانستان کې د امريکايانو په خلاف عمليات ترسره کوي. مزاحمتونه ورته پيدا کوي او له سيمې څخه يې شړل غواړی.

په نهايت کې د ناټو د حضور په دوران کې پاکستان په افغانستان کې امن او ثبات نه غواړی او د جګړی دغې سور اور ته چې د افغانستان مظلوم ملت ورسره لاس او ګريوان دی پاکستان د خپلو ګټو په موخه بيوزی وهي چې دا هغه بل عامل دی چې په افغانستان کې د سولې او ثبات د تأمين لپاره لوی خنډ او مانع ګرځيدلي.

ددې ټولو پورته ذکر شوی عواملو ترڅنګ روسان هم په افغانستان کې د امريکايانو بريالیتوب نه غواړی او پدې جنګ کې د امريکا اوږد مهاله راګېريدل غواړی. هغه دا چې د جهاد پر مهال دروس په خلاف غربی نړی د افغانانو سره مرسته کوله چې بالاخره د افغانانو کلک عزم او د نړيوالی ټولنې سياسي مرسته پدې تمامه شوه چې اتحاد جماهير شوروی امپراطوری ړنګه او روسيه بېرته د يو هېواد په څېر د نړی په نقشه کې پاتې شي.

همداراز چينايان هم په دې خطه کې د امريکا موجوديت او په تېر بيا په افغانستان کې د امريکايانو حضور ته د شک په سترګه ګوری او د امريکايانو دغسې بالفعل شتون د ځان لپاره تهديد او د اقتصادي پروګرامونو او پرمختياوؤ لپاره خنډ ګڼي.

چينايان سره دغه ويره په افغانستان کې د سولې او ثبات له موانعو څخه يوه مانع ده چې تاوان يې افغان ولس د خپلو وينو په قيمت ګالی.

۳- بين المللي خنډونه:

د نړيوالی ټولنې خپل سری او بې نظمه شتون چې د افغاني قواوؤ سره په محاربوي او غير محاربوي برخو کې پوره هماهنګی نلري د ډېرو ناامنيو او ستونزو باعث ګرځيدلی او افغانان يې په خپلو ناوړه اعمالو چې د قانون، شريعت او افغاني دود او رسم په خلاف يې ترسره کوي راپارولی.

د بهرنيانو دغه شعار چې د سولې ساتونکی يو امن راولو بيا رغاونه کوو اسيب پذيره افغانانو ته محض دروغ ښکاري او اعتبار پرې نکوي او ددوی دارنګه حضور او عمل د سولې او ثبات په راوستو کې مانع او خنډ ګرځيدلی چې د سمون لپاره يې بايد نړيواله ټولنه په عملي ډګر کې لاس په کار شي.

د خپلو خبرو په لنډيز او راټولو سره بايد ووايم چې پورته ذکر شوی عوامل دا ټول هغه خنډونه دي چې په ملي، منطقوي او نړيواله کچه يې د افغانستان سوله او ثبات د چيلنج او ګواښ سره مخامخ کړی تر څو د پورته موانعو لپاره معقول او پرځای تدابير ونه نيول شي سوله به په خطر کې ده.

په افغانستان کې د تل پاتې سولې په هيله

دحزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ...

نوموړي په خپلو خبرو کې دروسانو ديرغل په وړاندې د افغانستان د مجاهد ولس دسرښندنې ستاينه وکړه او د روسانو ديرغل او دهغوی دماتې لاملونو يې په ګوته کړل. ده په هيواد کې د ټولو هغو زيانونو يادونه وکړه چې دروسانو دوحشيانه تيري او زورزياتي له امله افغانستان ته اوښتي دي.

وروسته دحزب اسلامي افغانستان د دارالانشاء رئيس تورن غلام سخي غونډې ته په خپله وينا کې پرهيواد دروسانو ديرغل او په وړاندې يې دافغان ولس دغبرګون په اړه خبرې وکړې، ده دافغانانو په لاس د سره ښکېلاک راپرزيدل دافغانانو لپاره يو ستر وياړ وباله.

همدارنګه غونډې ته دسولې دعالي شورا مرستيال او دحزب اسلامي افغانستان داجرائيه شوری غړي مولوي عطاء الله لودين هم خپله وينا واوروله. ښاغلي لودين هم دجدي شپږمه دافغانستان په معاصر تاريخ کې يوه توره اونه هيريدونکې ورځ وبلله، او د افغانانو دبېسارې قرباني يادونه يې وکړه. ددې ترڅنګ نوموړي پرافغان حکومت او نړيوالې ټولنې هم نيوکې وکړې، ده وويل: په هيواد کې سوله او د يو اسلامي نظام منځ ته راتلل د افغانانو هيله او غوښتنه وه، افغانانو غوښتل چې ددوی اصلي اړتياو ته دې پاملرنه وشي، او د هيواد اساسي بنسټونه دې ورغول شي، خو د افغانانو داغوښتنه نه و چې ددوی لپاره دې په لسګونو ټلويزيوني چينلونه جوړ شي او د فساد لپاره دې زمينه برابره شي. ده دحزب اسلامي افغانستان دخوانانو له ټولنې څخه مننه وکړه چې ددغې ورځې په مناسب يې ياد غونډه جوړه کړې.

غونډې ته د کابل له ولسواليو څخه راغلو يو شمير مسؤلينو او نورو مشرانو هر يو د کابل پوهنتون دشرعياتو دپوهنځي استاد قاضي بشير فضلي، په پغمان ولسوالی کې د حزب اسلامي عمومي مسؤول حبيب الله منګري، دعلومو اکاډمي غړي استاد فقيرمحمد او د کابل ښار مسؤل اقبال يار بابکرخيل له دغې ورځې څخه په زړېدلو بدمرغيو يې رڼا واچوله او محمد صابر ارغنديوال د حزب اسلامي غړی او د ترافيکو درياست مرستيال د شپږم جدي په مناسبت يوه قطعه شعر ولوست.

غونډه چې له غرمې وروسته يوه نيمه بجه پيل شوې وه مازديګر مهال د حزب اسلامي د رهبري شوری غړی او د ښوونې او روزنې د پوهنتون استاد غلام دستګير خاورين په دعا سره پاي ته ورسيده.

د بګرام په وحشتناک زندان کې د ځورونکو شپو یاد

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

(دوهمه برخه)

او ویل یې مه خوځېږه او چیرته ځی او څه کوی او لاس مې چې ولچک وو سخت یې راباندې تاو کړل اوسخت په درد شول خو لنډه ده چې یوساعت شاوخا یې الوتکې باد ته دغو بې رحمه امریکایانو نیولی وم او بیا یې څرخي ته پورته کړم او هلته یې په داسې شکل دالوتکې په چوکۍ کې وتړلم چې یوه پښه مې یوې خواته اوبله پښه مې یې بلې خواته بنده کړه لاسونه خومې ولچ وو له وړاندې اود سینې لخوا هم او دشانه هم داسې کلک شیان راته پیدا شول چې هیڅ لورته مې حرکت نه شو کولای او ځان مې نه شو خوځولی.

خو چې کله الوتکه په هوا شوه نو له ځان سره مې فکر وکړ چې ته خو ژورنالیست یې او دا څرنګه یې یوازې دیو ژورنالیست لپاره دوه الوتکې او۴۰ شاوخا پوځي ګاډي او لسګونوتنه عسکر راوستی دا څه خبره ده خو حیران وم او ما ویل چې دکومې پوځي فرقې قوماندان خو هم نه یې ته خو صرف یو ژورنالیست یې اویو قلم او مایک او کمره لرې داڅه خبره ده بیا مې ویل چې هسې نه پوهیدلې دا خبرنګاري به جرم وې او ددې کار دترسره کیدو په خاطر به دا جزا درکوي خو چې کله الوتکه کښیناستله هلته دامبولانسونو چیغې وې او دوه دانې جیټ تیارې پورته شوې او ما ګمان وکړ چې بګرام دی نوچې کله یې له الوتکې کوز کړم نو بیا یې په یوه کوچنی موټر کی کښینولم چې چوکی یې داسې کلکې وې لکه دلرګي په هغې کې یې کښینولم بیا یې بوتلم شاوخوا ۱۵ دقیقې یې په همدې ځای کې وګرځولم بیا یې کوز کړم اوله موټر نه یې داسې ورکش کړم لکه بل شی او بیا یې همداسې په غیږ کې یوځای کې وغورځولم چې هلته یې واچولم بیا نو څرنګه یې چې غورځولی یم حرکت مې نه شو کولای لږ غوندې به چې وغوځیدلم نو وهلم به یې ما فکر کاوه چې دلته به هم زما پرسرامریکایان ولاړ وی خو دوی مې په سر نه وو ولاړ او سترګې مې بندی وې خو چې هڅه مې وکړه چې پښې وغځوم نو نه مې شوی غځولې ځکه دا کوټه په یوه متر شا وخا کې وه او چې ولاړیږم نو ولاړیدی هم نه ش۵ دقیقی شاوخا به یې هلته اچولی وم چې ددرزوازې درز شو نو له لاسه یې ونیولم اویوې کوټې ته یې بوتلم چې هلته مې لاسونه په رنګ راککړ کړل اوبیا یې په کاغذ کښیودل او دکریمنالتخنیک شعبه وه هلته یې زما لاسونه له ولچک خلاص کړل او چې دلاسونو چاپ یې واخیست بیرته یې ولچک کړل او دسترګو نه یې هم کځوړه خلاصه کړه او چې دسترګو عکسونه یې واخیستل نو بیرته یې کځوړه راته پر سر کړه سترګې یې راباندې بیرته بندې کړی.

نو بیا یې بلې وړوکی کوټی ته کش کړم چې هغه د ډاکټر کوټه وه هلته یې ټول کالي رانه ویستل او دډاکټر او یو ترجمان په وړاندې درې امریکایان هم ول ډاکټر زما ټول بدن وکوت زخمونه یې ولټول چې له لاسونو پرته چې هغه ولچک وینې کړی وو بل هیڅ هم نه وو نو وزن یې کړم چې ۱۱۱ کیلو وم او قدم یې هم وکوت او راته یې ویل چې څه تکلیف لری ما ورته ویل چې دمعدې مشکل لرم اوبل دانیم سر می کله کله درد کوی ګمان کوم د فشار تکلیف می دی نو په دې وخت کې ډاکټر راته ویل چې سګرټ ،نصورا، الکول، یا نور څه عمل لری ماورته وویل چې نه هیڅ عمل نه لرم یوازې ډوډې خورم او اوبه څښم نور هیڅ عمل نه لرم نو ده عینکې پرمیز کښیښودې اوراته یې وویل چې مه ویریږه هرعمل چې ولری ووایه داجرم نه دی ماورته وویل چې نه زه عمل نه لرم ترجمان راته وایی زه درسره شته مه ویریږه ورته ووایه مه یې پټه وه ما ورته وویل زه پوهیږم چې وژلو ځای ته راغلی یم او زه عمل نه لرم خو ویره به ولی نه کوم ویریږم خو هیڅ عمل نه لرم.

اودلوخ ځان شاوخوا تر ۶۰ ته زیات عکسونه یې له مخې څنګ او شاټولو طرفونو نه عکسونه واخیستل.

لنډه داچې بریت اوږیره لرونکی امریکایی زما پر کالیو وخوت اوله الماری یی نارنجي رنګی دګوانتانامواو دابو غریب دزندانونو دبندیانو په شان جامې چې په نیټ کې مې لیدلې وې هغه یې راته را واخیستې او هغه یې زما مخې ته واچولې اوراته یې ویل چې جامې دې بدلې کړي ما فکر کاوه چې اوس به ماته جامې راکوي او داسې فکر مې نه کاوه چې د ګوانتانامو او دابوغریب دبندیانو جامې به زما پر تن کوي .خو لنډه داچې امریکایی راباندې غږ وکړ وویل :)چنج یور کلوتس (ما ورته وکتل او راته یې همدا نارنجی رنګې جامې رانیږدې کړې او راته یې وویل چې)یوکن یوز دیس کلوتس (ماورته وویل چې)دټ ایز ویری بد کلر(هغه راته وویل چې)وټ ایز دمینینګ اپ کلر (ماورته وویل چې)دیس کلر کلوتس پاردابوغریب انډ ګوانتانامو جیل پریزن(اودامې هم ورته وویل چې زه خو ژورنالیست یم څنګه دغه جامې ماته را کوې داجامې خو دژورنالیست نه دې اوماته باید داجامې وانه اغوستل شي په دې وخت کې یې په لغته ووهلم او د ډاکټر دمیز لاندې یې ور وغورځولم او په زور یې راباندې واغوستلې او زه یې مجبور کړم خودغه پتولن دی که پرتوږ څه نوم پرې کیږدو دومره وړوکی وو چې ډیر په تکلیف مې واغوست اوسخت ورسره پتنګ وم څکه پښې مې نه شوای په کښې راټولولای.

جامې مې واخستی اوپه تن می کړی او کځوړه یې بیرته راپرسر کړه او لاسونه یې راته د اوسپنې په ولچک ولچک کړل چې شاوخوا دوه نیم کیلو تردریو کیلو به یی وزن وو یعنی خورا درانده وو.

بیرته یې هماغه کوچنې اطاق ته چې غوندی تنګ وبوتلم او همغلته یې وغورځولم.

له څو شیبو نه وروسته یې بیا دتحقیق بلې کوټې ته کش کړلم اوبیا یې هلته رانه پوښتنې پیل کړې. راته یې ښه تشریح وکړه چې کله ته بیرته خوشې کیدلې نوته به چاته نه وایې چې څه ډول امریکایانو ونیولې څرنګه یې وساتلې اوڅرنګه یې خوشې کړلې نو بیا یې تحقیق پیل کړ چې ته پوهیږې ولې مو دلته راوستلې یې ماورته وویل چې زه نه پوهیږم اوبل یې راته ویل چې ته پوهیږې موږ ولې درته راغلي یو ما ورته وویل چې په دې پوهیږم چې ولې تاسو راغلي یاست پوښتنې پیل شوې په دې به نور څه نه وایو چې څه ډول پوښتنې وې خو دا خبره باید په ډاګه کړم چې زما دمبایل خبرې یې دتیرو دریو کلونو راپډیخوا ریکارډ کړې وې اوزه چې له هرچاسره غږیدلی وم ټول پکې ثبت و په داسې حا ل کې چې دغه عمل داساسی قانون خلاف عمل دي.

(نوربیا)

پیاوړی سیاست پوه او ملي شخصیت ډاکټر عبدالصمد حامد په حق ورسیده

د افغانستان وتلی ملي او سیاسي شخصیت، حقوقپوه عبدالصمد حامد په جرمنې کې د ځلور اتیا کالو په عمر ځان حق ته ورسپاره ، انا لله و انا الیه راجعون.

اروانباد عبدالصمد حامد چې د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په دوره کې د کابل پوهنتون استاد او بیا د پوهنتون له ریاسته نیولې تر ولایت، وزارت او بیا د صدارت تر مرستیالی دندې ترسره کړې وې، د روسانو له یرغل سره لومړی د زندان د تورو تمبو شاته ته واچول شو او کله چې په ۱۹۸۰ کې خوشې شو نو دوخت مزدور حکومت دمشر ببرک کارمل لخوا ارګ کې په یوه خاصه میلمستیا کې چې دښاغلي صمد حامد لپاره تیاره شوې وه ببرک کارمل وویل نوره د جلاد او ظالم امین دوره پایې ته رسیدلې هیواد ستاپه څیر شخصیتونو ته اړتیا لري زه تاسو ته په حکومت کې دکار کولو بلنه درکوم او موږ به تا ته دصدارت اویاهم بله مناسبه څوکی درکړو له تاسو هم هیله مند یم چې زموږ له نظام سره مرسته وکړې.

خو په خپل دین او خاوره مین مدبر عالم او سیاسي شخصیت دکمونستانو په عزایمو پوهیده اوپردې هم پوهیده چې زموږ ولس له روسانو اودهغوی له مزدورانو څومره کرکه اونفرت لري مرحوم صمد حامد چې څوکی ورته دخدای له امر اودولس له ناخوښۍ ډیره تیته ښکاریده نو د، دالهي حکم سره سم یې دهجرت اوجهاد مقدسه لاره خپله کړه اولکه دنورو افغانانو په څیر پاکستان ته مهاجر شو، په پاکستان کې تر څه مودې تیرولو وروسته جرمني ته ولاړ اوهلته دژوند تر پایه پاتې شو. نوموړی د افغان جهاد په ټوله دوره کې د افغانستان له مسایلو سره ډیر نږدې پاتې شوی مرحوم ډاکټر عبدالصمد حامد د هغه ګوتشمېر افغان سیاستوالو په کتار کې و چې پرسیاست یې د ټولنې د پرمختګ د وسیلې په توګه باور درلود. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنی پر مهال د پلان وزیر اود صدارت مرستیال و. دمرحوم په هکله داخبره زیاته مشهوره ده چې په هېواد کې د غلې دانې قحط راغی. نو دی د یوه پلاوي په مشرۍ خینو ولایتونو ته ولاړ چې حالت له نژدې وګوري. پخپله ارزونه کې یې مرکز ته د دوو والیانو په ګډون د څو سیمه ییزو چارواکو د لرې کېدو سپارښتنه وکړه. نور چارواکي لرې شول خو دوالیانو پر غوښتنه یې چا سر و نه ګراوه. کابل ته دررسیدو سره سم یې استعفا یې وکړه او له څوکی سره یې مخه ښه وکړه. صمد حامد هم د هغو کسانو په ډله کې و چې تر حده زیات پر پاچا ګران اومنلی و. داسې ویل کېږي پاچا غوښتل چې په راتلونکې کې ورته د لومړي وزیر (صدارت) څوکی ورکړي، خو پر هېواداوولس دغه مین سیاستوال پخپل سیاسي ژوند کې دا یوه ماتې چې خودسره والیانو لرې کیدل و هم ونه زغملای شواو څوکی یې پرېښوده. نه پوهېږم چې په شاوخوا پینځو لسیزو کې زموږ د سیاستوالو ترمنځ دومره لوی توپیر له کومه راپیدا شو. پینځه لسیزه وړاندې به زموږ سیاستوالو څوکي نه غوښته حکومت به پسې ګرځوله خو اوس چې یې حکومت نه ورکوي دوی ورپسې منډې وهي.

د اروانباد مړینه په داسې حساسو شرایطو کې چې زموږ ولس ورسره لاس او ګریوان دي او دده په څېر مدبرو شخصیتونو ته اشد اړتیا لري یوه ستر او نه جبرانېدونکی تشه ګڼو. د اروانباد لپاره دهغه ذات په دربار کې لاسونه لپه کوو چې دده په څېر شخصیتونه یې پر افغاني ټولنه لورولي وو. روح دې ښاد او ځای دې جنت وي.

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید قهرمان انجنیر جلال الدین

از آرشیف خانه جهاد افغانستان

شهید انجنیر جلال الدین فرزند عبدالمحمد سالها قبل در دهکده دو آبی از مضافات ولسوالی سروبی ولایت کابل در خانواده مسلمان و متعهدی دیده بدنیا باز کرد، در سال ۱۳٤٥ شامل مکتب ابتدائیه ((هودخیل)) گردید در پهلوی دروس مکتب به فراگیری علوم دینی نیز علاقه زیاد داشت، در شگوفانی بذر های استعداد و تربیه هر چه بهتر آن شهید محمد اضغر و شهید قاری محمداعظم که از قافله سالاران نهضت شکوهمند اسلامی کشور محسوب می شدند عطف توجه عمیق و دلسوزانه مبذول داشته اند، شهید انجنیر جلال الدین در سال ۱۳٥۱ شامل تخنیک ثانوی کابل گردید، در جریان تحصیل افتخار عضویت نهضت اسلامی افغانستان نصیبش شد، موصوف در همه جلسات و تظاهرات، با تحرک و نشاط خاصی حصه میگرفت. همزمان با کودتای بدفرجام هفت ثور ۱۳٥۷ شهید انجنیر جلال الدین راه هجرت در پیش گرفت و در سال ۱۳٥۸ بنا بر لزوم دید مقامات ذی صلاح حزب به صفت همکارتخنیکی ستدیونی نمبر یک رادیوی حزب اسلامی افغانستان توظیف گردید، در بازتابی و انعکاس اهداف والای جهاد که راه بقای انسانهای مؤمن در آن نهفته و مضمر است یکجا با برادران مجاهدش شهید استاد طالوت موحد، استاد فرهاد، برادر مبشر و برادر خالد نقش فعال و برازندهء را ایفا نموده اند.

شهید انجنیر جلال الدین همیش اصرار می ورزید تا به زادگاهش کابل شتافته مسئولیت جهادی اش را در آندیار ادامه دهد، در فتح غند اسمار ولایت کنرها مستقیماً شرکت نموده، قهرمانی های درخور توجهی از خود به یادگار گذاشته است، شهید انجنیر جلال الدین جهت رسانیدن آواز حق طلبانه و نجات بخش جهاد به کوشش هموطنان مسلمان ما در اواخر سال ۱۳٥۹ به ولایت زابل اعزام گردید که با موفقیت وظیفه اش را انجام داد، در سال ۱۳٦۰ به ولسوالی ده سبز ولایت کابل رفت و در نقش یک سپاهی متعهد و هدفمند مسئولیت های ایمانی اش را با کمال افتخار انجام داده با سپری نمودن دو ماه در جبهه ولسوالی ده سبز روی مشکلی به پشاور آمد و در سال ۱۳٦۱ غرض اجرای پروگرام خاصی به ولایت وردک، میدان اعزام گردیدند در عملیات مذکور سهم فعال و برازندهء را ایفا نمود، متعاقب آن از طرف تنظیم ولایتی کابل به صفت قوماندان نظامی ولسوالی ده سبز تعیین گردید، در سال ۱۳٦۲ نظر به ا ستعداد و مهارت کافی که در امور عسکری و نظامی داشت رسماً از طرف مقام امارت مجاهدین بحیث آمر جبهه ولسوالی ده سبز توظیف شد. شهید انجنیر جلال الدین همیش مراکز مهم دشمن را مورد حمله قرار میداد. سفارت روسها در کابل، مکروریان، تپه تاجبیک، میدان هوائی خواجه رواش و ارگ ریاست جمهوری به اثر حملات پی هم او شدیداً خساره مند شده اند، هم چنان این راد مرد حماسه ساز و قهرمان در عملیات که بتاریخ ۲/۱۰/۱۳٦٦ بالای پوسته های ولسوالی چهار آسیاب براه انداخت همه پوسته های ولسوالی مذکور را فتح و غنایم بی شماری از آن بدست آورد. در عملیاتی که بتاریخ ۲۰/۱۰/٦۳ تحت قومنده وی بالای ارگ ریاست جمهوری، مکرویان، کمیته مرکزی مزدوران روس و وزارت مالیه صورت گرفت، تلفات زیادی به دشمن وارد آمد که همه خبرگذاری های جهان نیز آنرا تائید کردند. طی عملیاتی مؤثر دیگریکه در سال ۱۳٦٥ غرض نکوهش تقبیح کودتای هفت ثور ۱۳٥۷ به اجرا در آورد تعمیر رادیو استیشن، زندان پلچرخی، قوای راکت، استیشن ملی بس کلاً صدمه دید و تلفات جانی به دشمن وارد آمد، در آواخر سال ۱۳٦٥ این راد مردنامی میدان جهاد بخاطر کسب هدایت از مقام رهبری حزب و هم چنان جهت احوال گیری از فامیل مجاهدین که در جریان جنگ به شهادت رسیده اند رهسپار پشاور شد، همزمان با آمدن شهید انجنیر جلال الدین به پشاور روسها به قصد تسخیر سنگرهای مجاهدین در جاجی به یک تهاجم گسترده و خطرناک دست زدند. انجنیر جلال الدین شهید بدون معطلی به غند الفتح رفت تا درین معرکه و جنگ حصه بگیرد، بالاخره در آخرین روز های ماه ثور ۱۳٦٦ به اثر فیر دستگاه ٤۱ دشمن به شهادت رسید.

(انالله و انا الیه راجعون)

راشه د بلې دې خبر کړم!

عبدالله کامه وال

❁ په کویت کې (توره بوړه) سریال تر ټولو زیات لیدونکي لري

د یوه کویتي پلار، چې افغانستان ته ځي او په توره بوړه کې له القاعده شبکې سره د خپل یوځای شوي زوی د موندلو لټه کوي، ډرامې په کویت کې خورا زیات لیدونکي موندلي دي.

په دې سریال کې، چې لومړی پلا د دوبۍ په پنځم فلم فیستوال کې ننداري ته وړاندې شو، د کویت د سینما نامتو لوبغاړو رول لوبولی دی.

په دې فلم کې د یوه کویتي سړي او د هغه د ښځې کیسه انځور شوې چې د خپل زوی د موندلو لپاره توري بوړې ته تللی او د طالبانو له لوري په دې شک نیول شوی چې جاسوس دی.حال دا چې د دوی زوی له طالبانو سره د همکاری لپاره افغانستان ته تللی و.

د تېر کال په اګست میاشت کې دا فلم په کویت کې ننداري ته وړاندې شو. دغه فلم د بشپړېدو په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې د کویت د اطلاعاتو مرستیال وزیر شیخ سلمان الحمدون الصباح د فلم له لوبغاړو او ژورنالستانو سره یو ځای «توره بوړه» فلم وکوت.

په دې فلم کې د یوه کویتي سړي او د هغه د ښځې کیسه انځور شوې چې د



خپل زوی د موندلو لپاره توري بوړې ته تللی او د طالبانو له لوري په دې شک نیول شوی چې جاسوس دی.حال دا چې د دوی زوی له طالبانو سره د همکاری لپاره افغانستان ته تللی و.

د کویت د اطلاعاتو مرستیال وزیر د فلم له کتلو وروسته وویل :«نن موږ یو داسې کویتی فلم ولید چې په نړیوالو معیارونو برابر دی.موږ د کویت یو واقعاً سوچه مسلکي تولید ولید.دا هغه څه دي چې موږ یې نړیوالې ټولنې ته وړاندې کولی شو، باید العودي وستایل شي

د جدي شپږمه د ننګرهار په ولایتي دفتر کې د یو لړ شانداره مراسمو په ترځ کې وغندل شوه

ریپورټ:سالار

د ۱۳۹۱ کال د جدي په شپږمه د حزب اسلامي د ننګرهار په ولایتي دفتر کې د روسي یرغلګرو د اعمالو تقبیح او غندنې په مناسبت یو پرتمینه غونډه جوړ شوې وه.

غونډه د قرآن عظیم الشأن د څو مبارکو آیاتو په تلاوت پرانستل شوه.

غونډه د ننګرهار د ولایتي دفتر د مسؤول استاد عبدالعلی په افتتاحیه وینا پرانستل شوه او وویل چې شوروي اتحاد ددې ټولو ناخوالو او بدمرغیو مسؤولیت لري.

وروسته جید عالم شیخ القرآن ضیاء الله خپله وینا واوروله او وویل چې شوریان د افغانانو د متو په زور او الله په نصرت دړې وړې شول او إن شاء الله یهودیان او نصرانیان هم د همدې سرنوشت سره مخ کېدونکی دي.

وروسته د ننګرهار د پوهنتون استاد عبدالهادي "عاصم " خپله وینا وړاندې کړه او وویل چې د روسانو او دهغوی د انډیوالانو ظلمونه د هیڅچا پټ ندي. خو کومې قربانۍ چې دې ملت ورکړې د هغوی ارمان تحقق ندی موندلي او دا ددې محصلینو او ځوانانو مسؤولیت دی چې ددې ارمان لپاره قربانۍ ورکړي او خپله مبارزه دې وکړي تر څو اسلامي نظام رامنځ ته شي.

تر دې وروسته د ولایتي شوری وکیل داکتر عبدالقهار لودین خبرې وکړې، لدې وروسته د ولایتي شوری معاون مفتي معین شاه حقاني عالمانه وینا وکړه.

بل ویناوال د ننګرهار د پوهنتون د محصلینو نماینده محمد طیب خبرې وکړې. وروسته د چپرهار د ترانی ټیم خپله ترانه زمزمه کړه.

بیا د اسلامي تحریک د لومړی حلقې غړي استاد عبدالکریم عالمانه وینا واوروله او د ننګرهار د ځوانانو مسؤول ساحل خان قطعه نامه ولوستله.

یاده غونډه د ننګرهار ولایت د ولایتي دفتر د علماو د څانګې مسؤول مولوی فضل رحیم په دعائیه پای ته ورسېدې.

د یادې غونډې د ویډیوی چارې د ولایتي دفتر د فرهنګي چارو مسؤول غلام علي سالار پرمخ بیولی.

چرا تعمیر جدید شفاخانهء جمهوریت مورد استفاده قرار نگرفته است؟

کابل، رسانه ها:

با آن که از افتتاح تعمیر جدید شفاخانهء جمهوریت حدود سه سال می گذرد، اما هنوز هم این تعمیر به بهره برداری سپرده نشده است.

تعمیر جدید شفاخانه جمهوریت در کابل حدود سه سال قبل از سوی رییس جمهور کرزی به گونه رسمی افتتاح شد، اما هنوز هم مریضان در تعمیر کهنه این شفاخانه که از امکانات محدود طبی برخودار است، تحت تداوی قرار می گیرند.

با آنکه گفته می شود تعمیر جدید این شفاخانه مجهز با وسایل عصری طبی است، اما مریضان داخل بستر در تعمیر کهنه این شفاخانه مجبور اند تا معاینات شان را بیرون از این شفاخانه انجام دهند.

شماری از مریضان داخل بستر این شفاخانه به روز سه شنبه مشکلات شان در رابطه به انجام معاینات در بیرون از این شفاخانه را چنین بیان کردند: "معاینات خون برایم با کرایه موتر ۱۴ صد افغانی تمام شد."

"بعضی معاینات در داخل شفاخانه صورت می گیرد و بعضی معاینات در بیرون از شفاخانه."

تعمیر کهنه شفاخانه جمهوریت فقط دارای دوصد بستر است و از این سبب مریضان و مریض داران را با مشکلات مواجه ساخته است.

داکتر نجیب الله نثار سرطبیب شفاخانه جمهوریت می گوید که تعمیر جدید این شفاخانه به گونه رسمی تا اکنون به آنان سپرده نشده است.

وی در صحبت با رادیو آزادی گفت که بحث ها در این مورد با موسسه آغا خان جریان دارد تا این تعمیر مجهز با وسایل پیشرفته طبی هر چه زودتر به فعالیت آغاز کند: "این تعمیر وقتی که افتتاح شد پلان این بو[illegible] خود وزارت این را فعال بسازد، اما بعد[illegible] سمی که دیده شد، گفتند چون این شفاخانه مصارف گزاف را ایجاب می کند و وزارت صحت عامه نمی تواند که این بودجه را برای مصارف این شفاخانه تهیه کند."

طالبان به په یوه سیاسي تحریک ...

افغانستان لانجه له پوځي لارې نه شي حل کېدای.

ستانکزي په عین حال کې په افغانستان کې سولې ته محتاطانه خوشبیني ښکاره کړه.

ده رویترز خبري اژانس ته په مرکه کې وویل: "فکر کوم یوه مسله چې ټول پرې موافق دي دا ده چې هرڅوک دا منې چې له پوځي لارې بې برى نه په برخه کېږي. هر څوک دا تاییدوي چې موږ باید جدي خبرې پیل کړو."

تېره میاشت د افغان طالبانو، د سولې د عالي شورا او د افغانستان د حکومت د سیاسي اپوزیسیون د بېلابېلو ډلو د استازو په ګډون د فرانسې د یوه تحقیقاتي انستیتیوت په نوبت او کوربه توب د دغه هیواد په شانتي اې ښار کې غونډه جوړه شوه چې په لړ کې یې مختلفو خواوو د سولې او د افغانستان د راتلونکي په اړه خپل نظرونه څرګند کړل.

رویترز خبري اژانس وایي، داسې نښې لیدل کېږي چې سولې ته د طالبانو په هڅولو کې د افغانستان د حکومت هلې ځلې بریالې دي.

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه هڅه کوي چې طالبان، مخکې تر دې چې نړیوال ځواکونه د ۲۰۱۴ کال تر پایه له افغانستانه ووځي، جګړه بس کړي.

پاکستان هم، چې تل د افغانستان د دولت او نړیوالو ځواکونو پرضد د جنګېدونکو طالبانو په ملاتړ تورن شوی، په وروستیو کې په افغانستان کې د سولې د بهیر د ملاتړ لپاره یو لړ مهم ګامونه اخیستي چې تر ټولو وروستی هڅه یې له خپلو محبسونو څخه د اتو پخوانیو طالب چارواکو خوشې کول دي.

در مورد نشست طیاره خارجی ...

برخی از این سناتوران در اجلاس عمومی روز سه شنبه تاکید کردند که باید وزارت ترانسپورت و هوانوردی در این زمینه تحقیقات جدید نماید.

پس از این انتقادات، فضل هادی مسلمیار رییس مشرانوجرگه، فیصله کرد تا کمسیون مخابرات، مواصلات و کمسیون امور دفاعی در این زمینه تحقیق نماید:

"موضوع مهم نشست اضطراری طیاره در ولایت قندهار است که بعد از آن تشویش ها به میان آمد که آیا این طیاره واقعاً بخاطر کدام مشکل نشست کرده بود و یا پشت پرده حرف های دیگر است یعنی چی معامله است، کمسیون مواصلات مخابرات و کمسیون امور دفاعی باید به صورت مشترک این موضوع را بررسی کنند تا بتوانیم برای مردم افغانستان یک گزارش مکمل را در مورد این طیاره ارایه نمایم که هدف نشست آن چی بوده است."

به اساس گزارش ها، دو روز قبل یک طیاره خارجی که گفته می شود مربوط حوزه خلیج می باشد بدون در جریان گذاشتن حکومت افغانستان در میدان هوایی قندهار نشست کرد.

یک روز پس از این کار، رییس جمهور کرزی به رییس شورای امنیت ملی وظیفه سپرد تا در این مورد تحقیق نماید.

تلاش نمودیم تا در این مورد با مسوولان وزارت ترانسپورت و هوانوردی صحبت نمایم اما سخنگوی این وزارت می گوید که هنوز تحقیقات در زمینه جریان دارد.

حامد کرزی اوایل هفته ...

روز سه شنبه در یک نشست خبری در کابل گفت که در کنار این موضوعات، آقای کرزی روی دهه تحول با همتای امریکایی اش نیز صحبت می کند.

به گفته وی امضا قرارداد امنیتی کابل و واشنگتن و چگونگی ادامه کمک های جامعهء جهانی از سال ۲۰۱۴ الی ۲۰۲۵ مسایل دیگری اند که رییس جمهور کشور به تفصیل روی آن گفتگو می کند:

"به ارتباط دهه تحول بعد از سال ۲۰۱۴ الی سال ۲۰۲۵ در این دهه نحوهء کمک های اقتصادی، چگونگی مصارف اش و هم چنان ایجاد زیربنا ها در افغانستان و اولویت های که در ستراتیژی ملی افغانستان جا دارد توجه به آن، این ها از مسایل اند که محور های اساسی مذاکرات را در جریان سفر به ایالات متحدهء امریکا تشکیل می دهند."

چندی قبل رییس جمهور کرزی در یک نشست خبری در کابل گفته بود که در این سفر با مقام های امریکایی به گونه جدی در مورد تجهیز نیرو های افغان صحبت می کند.

وی همچنان در همان وقت گفت: تا زمانی که ایالات متحده امریکا نیروهای امنیتی افغان را به گونه لازم تجهیز نکند، وی با آن کشور قرارداد امنیتی را امضا نخواهد کرد.

در عین حال آقای فیضی در کنفرانس خبری روز سه شنبه تاکید کرد که تجهیز نظامیان افغان مهم ترین موضوع است که رییس جمهور کرزی در سفر اش روی آن بحث خواهد کرد:

"حکومت افغانستان این موضوع را بار ها با مقامات کشور های غربی خاصتاً ایالات متحدهء امریکا مطرح کرده که یکی از محور های اساسی مذاکراتی که قرار است در جریان سفر آینده رییس جمهور کشور با رییس جمهور بارک اوباما و مقامات امریکایی صورت بگیرد، موضوع تجهیز و تقویت نیروهای امنیتی افغانستان است، که در این باره یک بار دیگر ما از ایالات متحدهء امریکا خواهیم خواست که نیروهای امنیتی ما را با توجه به ضرورت ها و خواست های افغانستان تقویت و تجهیز کنند."

تجهیز نیروهای امنیتی افغان در حالی مطرح می شود که نیرو های نظامی این کشور آهسته آهسته به گرفتن مسوولیت های امنیتی تمام کشور نزدیک می شوند.

روز گذشته حکومت افغانستان مرحله چهارم انتقال مسوولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای امنیتی افغان را اعلام کرد و قرار است تا دو ماه آینده نیروهای افغان مسوولیت های امنیتی بیش از ۵۰ ولسوالی دیگر را از نیروهای خارجی بر عهده بگیرند.

د طالبانو بریدونه کم شوي ...

شوي وو، چې دغو پېښو د دواړو لوریو تر منځ باور ته سخت زیات رسولی او یو بحراني حالت یې رامنځته کړی دی.

د ملګرو ملتونو د ریپوټ له مخې سږکال د ملکي تلفاتو په شمېر کې هم کمی راغلی دی او د دوی د احصایې له مخې د سږکال په لومړیو شپږو میاشتو کې ټول ۱۱۴۵ تنه ملکي وګړي وژل شوي او تېر کال په همدې موده کې ۱۵۱۰ تنه وژل شوي وو. د ملي اردو تلفات بیا برعکس سږکال زیات شوي دي او ۱۰۵۰ تنو ته رسېدلي دي. د روان کال د مارچ له ۲۱ نېټې راهیسې تراوسه ۱۴۰۰ تنه پولیس وژل شوي چې دا هم زیاتوالی ښیي. خو د تلفاتو پر وړاندې د افغان وسله والو ځواکونو شمېر هم زیات شوی دی او ناټو وایي چې د ۲۰۱۱ کال له مارچ څخه چې د افغان وسله والو ځواکونو شمېر ۱۳۲ زره وو، اوس یې شمېر ۳۳۳ زرو تنو ته رسېدلی دی. د راپورونو له مخې سږکال د آیساف او افغان پوځیانو له خوا ۳۰۰۰ مخالف وسله وال وژل شوي دي او تېر کال دا شمېر ۳۵۰۰ تنه وو. پورتنۍ ټولې شمېرې دا ښیي چې سږکال د جګړې په کچه کې یو څه کموالی راغلی او په تولیزه توګه د بریدونو او تلفاتو په شمېر کې کمی راغلی دی.

دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان شرايي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"
د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
ډیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب طفر بلاکونو شاته. خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com